North Dakota | Health
Be Legendary.™

# د کوویډ - 19 ناروغانو لپاره د درملنې انتخابونه

# مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن د دفاعي سیستم درملنه

**مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن د دفاعي سیستم درملنه څه شی ده؟**

مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن یو دفاعي سیستم دی چې په لابراتوار کې جوړ شوی دی. د بدن دا دفاعي سیستم د طبیعي دفاعي سیستم په څېر کار کوي، دا هغه پروټینونه دي چې د وایرسونو سره د مبارزې لپاره زموږ په بدن کې جوړ شوي دي.

مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم د رګونو له لارې (په رګ کې) تزریق کېږي او په روغتیایی مرکزونو کې ورکول کیږي. دا درملنه د متحده ایالاتو د خوراکي توکو او درملو اداري (FDA) لخوا د بیړني استعمال انتخاب (EUA) تر اجازې لاندې په داسې حال کې ورکول کېږي چې د دې درملنې د ګټو او خوندیتوب په اړه کلینیکي مطالعات دوام لري.

**ځه ولې باید مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم درملنه ترلاسه کړم؟**

که ستاسو تشخیص شوی وي او په COVID-19 ناروغۍ باندې اخته یاست او د ښکته څخه تر متوسطي اندازې پورې نښې ولرئ، نو د مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم به څومره چې ژر کېدای شي هغومره ستاسو په بدن کې لاندې ستونزې را **کمې** کړي:

- د کوویډ د نښو شدت
- په روغتون کې د بستري کېدو اندازه
- د هغه وایرس اندازه چې د یو اخته کس لخوا لیږدول شوی وي

**څه وخت باید د مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم درملنه وکړم؟**

که چېرې د COVID-19 پایله مثبته را وځېژي، نو د مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم درملنه چې څومره ژر وشي ډېره ګټوره ده (د کوویډ د نښو له ښکاره کېدو څخه په 10 ورځو کې).

**د دې درملنې لپاره کوم کسان مستحق دي؟**

_هر هغه څوک چې (12 کاله یا له دې څخه د ډېر عمر لرونکی وي)، د COVID-19 د معایناتو پایله یې مثبته وي او د ښکته څخه تر متوسطي کچې پورې د کوویډ نښې په بدن کې ولري. خپل د روغتیایي خدماتو چمتو کوونکي مرکز ته مراجعه وکړئ تر څو معلومه کړي چې تاسو د درملنې وړ یاست. ستاسو د روغتیايي خدماتو چمتو کوونکی مرکز به اړتیا ولري چې ستاسو د معایناتو مثبته نتیجه تثبیت او تایید کړي.

**که تاسو نورې اضافه پوښتنې، اندېښنې او/یا د درملنې یا ناروغانو د راجع کولو اړوند نورو لارښوونو ته اړتیا لرئ د NDDoH د عملیاتو مرکز (DOC) سره په 701-328-0707 شمېره اړیکه ونیسئ.**

بیا کتل شوی 2021/30/11

## د دی درملنې احتمالي جانبي عوارض څه دي؟

ددې درملنې عمومي جانبي عوارض کانګې، سرګرځی، د بدن خارښت او پر بدن ګرمکی راپورته کېدل دي.

څرنګه چې دا درمل د رګونو له لارې ورکول کېږي، کېدای شي ځینې خلک د ستنې لګېدلو په ځای کې لنډمهاله درد، وینه بهېدنه، د پوستکي زخم، درد، پړسوب او احتمالي عفونت پیدا کړي.

## دا درملنه څنګه او چیرې ترلاسه کولای شم؟

خپل د روغتیایي خدماتو چمتو کوونکي مرکز ته لاړ شئ چې د مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم نسخه درته برابره کړي او د درملنې لپاره مو د شمالي ډکوټا روغتیایي خدماتو مرکز ته راجع کړي.

دا نقشه وګورئ تر څو په شمالي ډکوټا کې د روغتیایي خدماتو د مرکز تاسیسات درته په ګوته کړي کوم چې د مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعي سیستم درملنه وړاندیز کوي.

## زه د دی درملنې لپاره باید څومره پیسې ورکړم / ایا دی درملنی ته زما په بیمه کی پوښښ ورکړل شوی دی؟

فدرالي حکومت ناروغانو ته پرته له کوم لګښت ورکولو څخه د بدن دفاعي سیستم اړوند روغتیایي خدمات وړاندې کوي. د بېمې ډېر لوی خصوصي شرکتونه د دې درملنې لګښت ورکوي. په هرصورت، که تاسو د بیمې پوښښ نه لرئ یا تاسو ډاډه نه یاست، نو د لګښت په اړه د درملنې د مرکز سره وګورئ.

https://combatcovid.hhs.gov/available-covid-19-treatment-options

## ایا زه کولای شم چې د مونوکلونل (یو نسلیز) د بدن دفاعی سیستم درملنې وروسته د COVID-19 واکسین ترلاسه کړم؟

موږ لا تر اوسه په دې نه پوهیږو چې واکسینونه په هغه چا څومره اغیزه کوي چې لا له وړاندې یې په COVID-19 د اخته کېدو پر وړاندې د بدن د فاعي سیستم درملنه ترلاسه کړې وي یا دا چې ایا د بدن دفاعي سیستم درملنه کولای شي چې د واکسین سره یو ځای ستاسو د بدن په معافیتي غبرګون کې مداخله وکړي. په هرصورت، که تاسو یوځل پر COVID-19 اخته شئ، تر دریو میاشتو پورې بیا په دې ناروغۍ د اخته کېدو احتمال ډېر کم دی. که تاسو د بدن د دفاعي سیستم درملنه ترلاسه کړئ، تاسو باید احتیاطا تر 90 ورځو پورې د واکسین لګول وځنډوئ.

*سرچینې:*

د covid19 درملنه: د شمالي ډکوټا د روغتیا څانګه (https://www.health.nd.gov/covidtreatment)

د COVID-19 درملو انتخابونه: د مینیسوټا د روغتیا وزارت (https://www.health.state.mn.us/diseases/coronavirus/meds.html#what)

**که تاسو نورې اضافه پوښتنې، اندېښنې او/یا د درملنې یا ناروغانو د راجع کولو اړوند نورو لاربښوونو ته اړتیا لرئ د NDDoH د عملیاتو مرکز (DOC) سره په 701-328-0707 شمېره اړیکه ونیسئ.**